ډاکتر  رحمت ربی ځیرکیار

۱۹ جولای ۲۰۱۶

## د ټیکنالوجی پرمختـګ او  د انـقلاب راتـګ؟!

«له هغي ورځي ويريږم چي ټکنالوجي به زموږ له بشري راشي درشي نه وړاندي لاړه شي. نړۍ به د احمقانو نسل وګرځي.» آلبرت آينشتاين(۱۸۷۹-۱۹۵۵زيیز). «ټکنالوجي يو ګټور نوکر دی، خو يو خطرناک واکمن.» ناروېګي مورخ او سياست پوه (۱۸۸۶-۱۹۳۸زيیز).

د ټيکنالوجی وظيفـه داده چي په لږ زور او لـږ وخت کي ډير توليـد وکـړي. هـر څومره چي ټيکنالوجي ګړندۍ کيږي، هغومره بدلون ګړندی کيږي. په جرمني کي يُهانيس ګوتينبيرګ چي اصلي مسلک يي زرګري و، په ۱۴۳۶ز کي يي د چاپ د ماشين په جوړولو پسي ملا وتړله او جوړ يي کړ. دغه اختراع انقلابي وه: هم يي د کتابونو زيات توليد ته لار هواره کړه، هم يي په اروپا کي د زده کړي او اطلاعاتو تيتولو ته لار پرانيستله، او په پايله کي  يي اروپا د معلوماتو پيړۍ (رينسانس) ته سيخه کړه. د چاپ د ماشين اختراع د ډيرو او مهمو ليکوالانو او د جرمن عيسوي مولوي مارتين لوتر(۱۴۸۳تر۱۵۴۶) د شهرت لپاره لار هواره کړه. د چاپ د ماشين له برکته، د الهياتو(تيولوجي) د پوهاند مارتين لوتر خبري شوی ديني(پروتيستانټ:اعتراضي) ښـووني د ۱۵۱۹زيیز پـوري فرانس ،انګلستان او ايټاليي ته ورسيدلي. مارتين لوتر په ۱۵۲۰م کالونو کي د جرمني بيلابيلو سيمو ته لاړ او د جرمني ژبي بيلابيلي ګړني (لهجي) يي راټولي کړلي او په خپل «لوتر بايبل»(لوتر انجيل) کي  يي د يوې ژبي په څير متحدی کړې، او په دي ډول يي خپله جرمني ژبه  د لهجو له کومي راوويستله او په ۱۵۳۱م کي يي معياري کړه. د چاپ ماشين د مولوي مارتين لوتر سره مرسته وکړه چي د هغه «نوی» انجيل په اروپا  او نوره نړۍ کي ښانګور شي. چاپي ماشين د ژبنيو(تقريري) تبليغاتو اهميت راټيټ کړ. ټليګراف واټن (فاصله) له مينځه ويوړله. د بُخاراينجن د انسان د مټ ځای ونيولو، او له صنعتي انقلاب راهيسي ټيکنالوجي د اقتصاد د پرمختګ مهم لوښی (وسيله) وګرځيدله.

انګريز ادم سميت(۱۷۲۳-۱۷۹۰) په نړۍ کي د  ازاد بازار لومړی اقتصاد  پوه و. د هغه مشهور کتاب (د ملتونو شـتمني) د امريکي د خپلواکۍ  په کال(۱۷۷۶زيیز) کي خپور شو. هغه د خپل مهال تاجرانو او توليدوونکوته په درنه سترګه کتل او«د بشر د نوعي اربابان»(ماستيرز آف مينکايند) يي ګڼل. خو اوس مهال کمپنۍ د يو ګروپ يا ډلي په شکل يوځای کيږي چي «کونګلوميرات» ورته ويل کيږي: لکه « ټاټا ګروپ»  په هند کي؛«فوسن اينټرنيشل» په چين کي؛«سيمسانګ» په سهيلي کورياکي؛ «الفابيټ»،«ګوګل»، «والټ ډيزني»...او «ټايم وارنر» په امريکا کي. جرمن سياسي  فيلسوف اواقتصاد پوه کارل مارکس (۱۸۱۸-۱۸۸۳) ويلي وو چي: « د ګټورو شيانو له حد نه زيات

تولید  په نتیجه کي له حد نه زیات بې حاصله خلک رامینځته کیږي.» زه ځیرکیار په دې بریالی نــه شوم چې د دغـه اقـتباس چــینه میــنـده کـړم.

The production of too many useful   things results in too many useless people.- Karl Marx

 وارین ګ. بینیس( ۱۹۲۵تر۲۰۱۴) د تجارتي اداري پوهاند او د امریکي د ولسمشرانو (کینیډي، جانسن، فورډ او ریګن) مشاور ویلي دي چې:« د  راتلونکي وخت کارخانه به یواځې دوه کارګران لري، یو سړی او یو سپی. سړی به سپی تغذیه کوي. سپی به هلته سړی له دې نه ساتي چې سامان لمس کړي.

The factory of the future will have only two employees, a man and a dog. The man will be there to feed the dog. The dog will be there to keep the man from touching the equipment. - Warren G. Bennis

 د کارل مارکس په آنـد،  په پانګه واله ټولنه کي چې د صنعتي  انقلاب سره یې غبرګ تحول وکړ، کارګران یواځې د خپل کار قدرت لـري، خو د خپل کار میوه (د تولید نتیجه) یې نه پـه برخه کیږي. د خپل تولید دومره برخه په لاس ورځي چې ګوزاره  پرې وکړلی شي.




په انګلستان کي (۱۸۱۱-۱۸۱۶زییز) د ماشینونو په ضد کارګرانو[لودیتانو] پاڅون وښود چې که  د تولید په نوي پړاو کي بـرخه ولـرلی شي

انګریـز چارلي چـاپلین (۱۸۸۹تر ۱۹۷۷) په خپل بې وینا او تور– سپین فلم (نوي وختونه/ماډرن ټایمز)کي  د ټکنالـوجی او ټولني استبداد ته د تماشا چیانو  فکر راګرځوي. چاپلین بې له وینا ، په ډېر مهارت سره  په دغسي کرغیړنه وضعه کي ښئ چې انسانان د موډرني ټولني د ماشین او موسسو په مینځ کي یرغمل شوي دي. ټـول تـال دغه  فلم له  ساینس فیکشن نه پـه بشري ډرامه اوړي او د غټ اقتصادي رکود په مهال (۱۹۳۷) د  امریکي کلتور او ټولنه تر کـتني لاندې نیسي.



**چارلي چاپلين په۱۹۳۷ کې په خپل بې غږه فلم (نوي وخـتـونه/ماډرن ټایـمز) کې د کار شـدت تمـثیلوي**

چـارلي چاپلـین د کارل مارکس پـیـچلی اومهم اثر «کپـیتال»(پانـګه) په خپله بې غـږه ډرامه کې تـمـثيل کړ: (۱) د کپیټلیسټ په واسطه د کارګر د وخت کنټرولول. (۲) د ماشـین سـره د کارګـر اړیـکې. (۳) کارګر ته پانګه وال هغومره پیسې ورکوي چې شـپه پرې سباکړی.(۴) هر څومره لږ معاش چې کارګر ته ورکول کیږي، هغومره باید ډیرکار وکړي.

په ۱۹۸۳ کې په امریکا کې د «ایجان د استخدام د څیړني موسسې» په خپل مخلید کې ویلي وو چې امریکا به تر ۱۹۹۰پورې پنځوس زره تر سل زره صنعتي خپلکاري ماشینونه(روباټز) ولري. په ۱۹۸۶کې په امریکا کې د سیاسي اقتصاد نامتو پوهاند بیري بلوستون هم د راتلونکي په اړه اندیښمن و. د هغه په فکر د پانګې افراطي تحرک(هایپر مُبیلیټي) لازموي چې امریکه دې د ټولنیزاطمنان جال ته پاملرنه وکړي او اداره کوونکی جال دې ارت کړي. رابرټ رایش چې هغه مهال په هاروارډ پوهنتون کې د ټولنیز او اقتصادي سیاست پوهاند و، په ډاګه کړه چې د امریکې صنعتي سیاست د فردي کورپوریشنونو د ستراتیجیو فرعي محصول دی او د خلکو د ژوند د ښه کیدنې سره اړخ نه لګوي. رابرټ رایش دیته هم ګوته ونیوله چې په هیواد کې روان صنعتي سیاست ټیټ مهارت او معمولي کارونه رامنځته کوي چې «بالاخره به د روباټـونـو او کمپیوټرونو په واسطه عوض کیږي.» روسي-امریکایي واسیلي لیونتیف(۱۹۰۶-۱۹۹۹) چې اقتصاد پوه و او په ۱۹۷۳ کې یې د اقتصاد په علم کې د نوبل جایزه ګټلې وه، لس کالونه وروسته یې په زیبز ۱۹۸۳کې د انجنیری دملي اکادمی په مهم مجلس کې («په استخدام او بیکارۍ باندې د ټکنالوجۍ اوږدمهاله اغیز») خپله اندیښنه ښودلې وه: ټیکنالوجیک پرمختـګ د درآمد په ګروپونو باندې نامطلوب ویشونکی اغیـز لري. ولولئ د تمویل د پوهاند مابري او د اداري د پوهاند شارپلـین لاندې لیکنه

R.H. Mabry and A.D. Sharplin, Does More Technology Create Unemployment? March 18, 1986.

که له یوې خوا ټکنالوجي د تولید لپاره اغیزمنه ده، نو له بلې خوا په ګړندي ډول د کارونو او کارګرانو ځای نیسي او له دې امله ټولنه د خطر (غټې بیکارۍ) سره مخامخ کوي. پـوهان په دې پوهـیږي، خو په دې نه پـوهـیږي چې په څه نه پـوهیږي. زه ځیرکیار به دومره ووایم چې په تـش لاس بازار نه چلـیږي!

په ۲۰۰۳ کي د تمويلي اقتصاد (فاينـنشل اِکنامیکس) دوه چارپوهانو(راجان او زينګالِيس) يو کتاب راوويست: «کپیټلیزم له کپیټلیستانو نه ساتل». زينګاليس «کروني کاپیټلیزم» ته ګوته نيسي چي د پانګه والانو او د دولت په مينځ کي په نږدې روابطو چليږي. زينګاليس د ۲۰۱۲په انتخاباتو کي ديته سترګي غړولي چي د ميت رامني په ولسمشرۍ کي به د هغه مشاور شي. خو رامني د بارک اوباما په مقابل کي انتخابات وبايلل. زينګاليس ایټالوي-امريکايي دی او په شيکاګو پوهنتون کي د اقتصاد پوهاند دی او د بیلابیلو اقتصادي موسسو سره همکاري لري

Raghuram G. Rajan and Luigi Zingales, Saving Capitalism from Capitalists. How Open Financial Markets Challenge the Establishment and Spread Prosperity to Rich and Poor Alike. Random House, April 2003.

رابرت رايش چي اوس په کليفورنيا برکلي پوهنتون کي د عامه سياست پوهاند دی، د ولسمشر بيل کلينټن په مهال د کار وزير و(۱۹۹۳تر ۱۹۹۷). رايش نږدې لس مياشي وړاندې يو مهم کتاب خپور کړ: د ډیرولپاره، نه د یو څو لپاره د کپیټلیزم ساتل. سپتمبر ۲۰۱۵

Robert Reich, Saving Capitalism: For the Many, Not the Few. Knopf, September 2015

رابرت رايش چي د اقتصاد او سياست په پيچومو کي ګرځيدلی دی، په خپل کتاب کي ښئ چي نوې امريکايي اوليګارشي [د متنـفذينو واکمني]، د منځنی طبقي سوليدل، د عايدو نابرابري، او د شتمنی توپير په تيرو اتياکالونو کي نااـنډولي رامنځته کړي ده. يعني اقتصادي نظام اوس خلک ناکاموي او دغي عمليې په امريکا کي اقتصاد او ولسواکی ته پاټک اچولی دی. واشنګټن او والسټریټ د ازاد بازار افسانه د پردې شاته رنګه کړي ده، او اوسنی سياسي او اقتصادي څـپرځی د امريـکي د ولس په ګټه نه دی. د ولس لپاره د فرصت او پرمختګ ژمنه يرغمل شوي ده. پوهاند رابرت رايش د اندي شتيرن د تازه چاپ شوي کتاب په اړه ليکي: «امريکا انتخاب نـلـري. بلاخره بايد اقل حد معاش[مينيمَم ويج] جګ کړو او عمومي اقلي درامد منظور کړو.ټکنالوجي به دومره ډير ښه کارونه عوض کړي چي امريکايان به د رانيولو کافي قدرت ونلري چي اقـتصاد چالان وسـاتي....» را به شو د اندي شتيرن کتاب ته چي اوس چاپ شوی دی

Andy Stern, Raising the Floor: How a Universal Basic Income Can Renew Our Economy and Rebuilding American Dream. Public Affairs, June 2016

که له يوې خوا ټکنالوجي د توليد لپاره اغيزمنه ده، نو له بلې خوا په ګړندي ډول د کارونو او کارګرانو ځای نيسي او له دي امله ټولنه د خطر(غټي بيکارۍ) سره مخامخ کوي.

اندي سټيرن(د ۱۵ کالونو لپاره د خدماتي کارمندانو د بين المللي اتحاديي رئيس)، دې نتيجي ته رسـيدلی دی چي پـه امريکا کي دې **هرچا ته** په مشخصه انـدازه(يوزر ډالـر)معاش ورکړل شي.

د نن سبا نږدې٪۴۵ کارونه به په شل(۲۰) کالونو کي د خپلکار(اتوميتيک) ماشين له لارې اجرا کيږي. د اکسفورډ پوهـنـتون دوه پوهـانو د ۷۰۲ امريکايي مصـروفيتونو او نـوو خودکـار تخنيکونو ارتـه څيـړنه وکړه. پايله يې دا شوه چي ٪۴۷ مصـروفيتونه په امريکا کي د دې خطر سره مخامخ دي چي له مينځه لاړشي، ځکه چي د سُوفټ وير(د کمپيوټر سا) خودکاره ماشينونه او مصنوعي عقل پرمختـګ کوي. امکان لري چي په را تـلونکو څولسيزو کي د خپل ځغاسته باروړونکو لا ريو لـه امله درې نيم ميليون ډريوران کار له لا سه و رکړي.

د امریکي د تمویلي خدمتونو بین المللي کمپنی(مورګن سټینلي) په احتیاط سره تخمینوي چې د خودمختاري ټکنالوجی له لارې باروړونکي صنایع هر کال د ۱۶۸ بیلیون ډالرو په شاوخواکي سپمولی شي - اویا (۷۰) بیلیون ډالر د کارمندانو د کمولو له لارې. په نیویارک ښارک کې د «سلون کیترینګ سرطان مرکز» د آی. بي. اِم. کمپیوټر (واټسن) په واسطه په خورا ستر دقت سره سرطان تشخیصولی شي. د دغې عملیی عواقب ډیر غټ دي. هر څومره چې مسلکي او اداري وظیفې د نوې ټکنالوجی د استعمال له امله کمیږي، هغه امتیاز او ګټه چې د کالج د برې لیک سره تړلی وي، خپل ارزښت بایلي او په دې ډول د کالج فارغان به د قــرض څپیړې خوري.

دلته وینو چې د ټکنالوجی پرمختګ هم مهال د اقتصادي سونامي (غټ بحري توپان) زیږی کري. په بله وینا، په داسې حال کې چې مولدیت زیاتیږي او تخنیکي پرمختګ خورا غښتلی وي، ګټه یې د ټولنې یا سنی یوې سلنې (۱٪) ته رسیږي. په دې ډول د ستر اکثریت ژوند کرغیړن کیږي او هیلې یې وچیږي. د ټکنالوجی بله کرغیړنتیا ډیره زوروونکې ده: دلته نه یواځې داچې ټکنا لوجي د کارګرانو ځای نیسي، بلکې پخپله کارونه ټوټه ټوټه کیږي او ازاد کارانو(فري لینسرز*)اوموقتیانو ته سپارل کیږي. ګیګ اقتصاد په یو چاپیریال ولاړ دی چې لنډمهاله (موقت) کارونه پکې معمول وي او سازمانونه د خپلواکو کارګرانو سره د لنډ مهال لپاره تړون کوي. دلته کار له وظیفی نه جلا کیږي او په نور هیوادونو کې سرته رسول کیږي. دغه ډول اجیر کارګران لږ یا هیڅ ډول قدرت یا ډاډ نلري، او د سهار له نهه بجو تر مازیګر ۵ بجو کارکوي خو د معاملې وس نلري.

*) Freelancers

د اندي شتیرن په آند، یو سخت او اوږد مهاله حل دا دی چې د امریکي اقتصادي نظام په «عمومي اساسي معاش» (یونیورسل بیسیک اِینکم) ودریږي. په امریکا کې د تور پوټکو د مدني حقوقو د مبارزې مشر او د بې تاوه پاڅون پلوي ډاکترمارتین لوتر کینګ(۱۹۲۹تر ۱۹۶۸) له خپلې وژنې نه لږ وړاندې «د بې وزله ولس دمبارزې» یو مارش تنظیم کړ. د کینګ اقتصادي خوب دا و چې حکومت دې غربت په دې ډول پای ته ورسوي چې **هر امریکایي ته** د منځنۍ طبقي په سویه تضمین شوی معاش ورکړي!

په امریکا کې د ولسمشرۍ د نوماند (کاندید) په څیر د سیناتور برني سینډرس تګلاره هم د پام وړ ده چې د امریکې په پخواني شخصي «جورج ټاون پوهنتون» کې یې د ۲۰۱۵ په نومبر کې اورولې وه. په امریکا کې د سمسمکی (مساوات طلبه) ټولنې د رامینځته کولو لپاره سیناتور سینډرس د «ولسواک سوشلیزم»(دموکراتیک سوشلیزم) مفکوره غوره ګڼلی ده چې د «سیاسي انقلاب» له لارې یې پالي. په خپل هیواد کې د دموکرات سوشلیست بارنې سینډرس د سمسمکی ټولنې په رامنځته کولو باندې د شلمې او یوویشتمې پیړۍ د څلور شخصیتونو پریکړو او دریځونو وزرې غوړولي دي: د امریکي ولسمشرانو فرانکلین دیلانو روزویلټ (۱۹۳۳تر۱۹۴۵) او لیندن جانسن (۱۹۶۳تر ۱۹۶۹)، په امریکا کې د افریقایي-امریکایانو د مدني حقوقو د خوځښت مشر او د بې تاوه پاڅون ستر دیني شخصیت ډاکتر مارتین لوتر کینګ(۱۹۲۹ تر ۱۹۶۸)، او د رومَن کاتولیک عیسویانو لار ښود پاپ فرانسیس (۱۹۳۶تــر اوســه)!

زما څیرکیار په آند، موږ په یوه داسې وړې او بې احساسه نړۍ کې ګډ ژوند کوو چې د قدرت او شتمنۍ په ناانډولۍ ویاړي، د بې وزلو کړاو نشي درک کولی او بل فکرانو ته د غلیمانو په سترګه کسي. د ظلم او بې عدالتۍ رغــاوی د انسان انسانیت ښئ. هو، مرسته ډیرنیک کار دی، خو د عدالت ځای نشي نیولی!! ټولنیز او سیاسي پاڅـونونه اوانقلابونه د ولسونو اړتیاوې منعکسوي.

د امریکي له پینځه دیرشم ولسمشر جان ف. کینډی (۱۹۶۱-۱۹۶۳) نه واورئ: «هغه څوک چې سوله ییز انقلاب نامـمـکنوي، تُند انـقـلاب به حتمي کړي.»

Those who make peaceful revolution impossible will make violent revolution inevitable.

پـاپ پـاول شپږم (۱۹۶۳-۱۹۷۸) ویلي وو چې: «که سوله غواړي، بـا یـد د عدالت لپاره کار وکړي.».

پای

Dr. rer. pol. Rahmat R. Zirakyar,
The Advancement of Technology and the Coming of Revolution?!

۱۵جولای ۲۰۱۶= ۲۵چنگاښ ۱۳۹۵